Julia Robinson Mathematics Festival



التعليم فوق الجميع | education above all

# د توپ وهلو مجموعه

| | |
|---|---|
| درجه | دویمه درجه (عمر: ۸ څخه تر ۱۰) |
| د ارتیا وړ سرچینې | د فوټبال پنډوسکي (۲)<br>نه رنګیدونکی توش |
| د سرچینو لپاره بدیلي لارې | د بوفټبال د پنډوسکي (توپ) پرځای ښوونکی کولی شي د کوم بل داسې پنډوسکي څخه کار واخلي چې په هغه باندې شمیرې ولیکلی شي.<br><br>کچیرته ښوونکی یو پنډوسکی نه لري، هغه کولای شي له زده کوونکو څخه وغواړي چې ګیټۍ (ډایس) د توپ (پنډوسکي) پرځای وڅرخوي. د ډایس یا ګیټۍ د جوړولو لپاره ښوونکی کولای شي لاندې لارښوونې په پام کې ونیسي او د انځورونو برخې ته هم ځیر شي.<br>1. په افقي شکل سره د څلورو مساوي مربع شکلونو رسمول<br>2. په اوله مرحله کې چې کوم مربع شکلونو جوړ شوي دی، په هغوی کې د دوهم مربع شکل څخه لاندې او باندې د دوو نورو مربع شکلونو رسمول.<br>3. ددې لپاره چې مکعب شکل جوړ کړی، تاسو باید د شکلونو بهرنۍ برخې پرې کړئ او څنډې له یو بل سره ونښلوی.<br>4. باید په څنډو باندې یو سرېښوونکی (لکه سریښ) وکاروی ترڅو ټولې څنډې له یو بل سره ونښلي.<br>5. په هر اړخ باندې باید داسې نقطې رسمې کړی چې د ۱ څخه تر ۶ د شمیرو نمایندګي وکړي. د انځورونو برخه د لا ډیرو مالوماتو لپاره وګورئ. |
| د پوهنیز لاندې موضوع | شمیرې او عملیې |
| په نښه شوي مهارتونه | د دوه عدده شمیرو حاصل جمع په ۱ عدد شمیرې باندې محاسبه کول جمع |
| الهام اخېستنه | [Prodigy](), [Julia Robinson Mathematics Festival]() - Gordon Hamilton |
| د ارتیا وړ وخت | ۵ دقیقې د لوبې لپاره<br>۱۵ دقیقې د ډایس (ګیټۍ) جوړولو لپاره کچیرته ارتیا ورته وي |
| پخوانیو زده کړو ته ارتیا | د یو عدده شمیرو ضرب<br>له ۱ څخه تر ۱۰۰ د شمیرو په اړه پوهاوی |
| ملاتړ ته ارتیا | متوسطه ځارنه |

<u>د لوبې قوانین:</u>

| | |
|---|---|
| **موخه** | د لوبې په پای کې هغه ټیم د لوبې ګټونکی دی چې تر ټولو لوړې نمرې ترلاسه کړي. |
| **مرحلې** | لومړې مرحله: ښوونکی/لاربښود/تسهیل کوونکی به له صفر څخه تر ۹ پورې شمیرې د دوو توپونو (پنډوسکو) پر مخ باندې ولیکي. د بیلګې لپاره د انځورونو برخه وګورئ.<br><br>دوهمه مرحله: ښوونکی به ټولګی پر دوو برخو باندې وویشي.<br><br>دریمه مرحله: په هر ټیم کې به ښوونکی یوه زده کوونکي ته د فوټبال یو توپ (پنډوسکی) ورکړي.<br><br>څلورمه مرحله: کله چې ښوونکی د «پیل» کلیمه ووایي، هغه زده کوونکی چې توب ورته په پیل کې ورکړل شوی دی، توب به په خپل ګروپ کې یو بل ملګري ته په لغته ووهي. هغه لوبغاړی چې د هغه لوري ته توپ وهل شوی دی، باید د توپ په پورتنۍ برخه باندې لیکل شوې شمیرې ته وګوري.<br><br>پینځمه مرحله: هغه زده کوونکی چې توپ ورسره دی، باید توپ په خپل ګروپ کې بل زده کوونکي ته په لغته باندې ووهي. هغه زده کوونکی چې توب ترلاسه کوي، باید د توپ په مخ باندې هغې شمیرې ته وګوري چې د توپ په پورتنۍ برخه باندې لیکل شوې ده. دا زده کوونکی به بیا همدغه شمیره د ټیم د ټولټال نمبرو سره جمع او یا هم ضرب کړي.<br><br>شپږمه مرحله: پینځمې مرحلې ته تر هغې دوام ورکړئ ترڅو وخت نه وي پوره شی.<br><br>اوومه مرحله: هر هغه ټیم چې د لوبې په پای کې تر ټولو لوړه شمیره ولري د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. |
| **ساده کوونه** | د فوټبال د توپ پرځای تاسو کولی شی د یوې ګیټۍ (ډایس) څخه کار واخلی. |

<table>
<tr><td>انځورونه</td><td>د یوه ډایس یا ګیټۍ نمونه:<br><br>د فوټبال پر مخ باندې شمیرې په دا شکل سره ولیکئ:<br><br></td></tr>
<tr><td>په لوبه کې بدلونونه</td><td></td></tr>
<tr><td>غني کوونه</td><td>• لوبې شمیرې (عددونه) وکاروئ.<br>• زده کوونکو ته اجازه ورکړئ چې د تفریق او تقسیم (ویش) عملیې هم ترسره کړي. په دې لوبه کې، هر ټیم به د ۱۰۰۰ له شمیرې څخه پیل کوي او ددې هڅه به کوي چې څومره ډېر چې کیږي باید د صفر عدد ته نیږدې شمیره په پای کې له ځانه سره ولري.</td></tr>
</table>

| | |
|---|---|
| **ساده کوونه** | • يوائې کوچنی شمیرې وکاروئ<br>• له زده کوونکو څخه وغواړئ چې يوائې د جمع عمليه ترسره کړي. |
| | • زده کوونکو ته وخت ورکړئ ترڅو په خپلو ورقو باندې تمرينات ترسره کړي. د لوبې دې ډول لپاره زده کوونکو ته اضافي وخت ورکړئ. |